محمد هارون خپل شعشعی

۱۲ جنوری ۲۰۱۲

# د
# علی محمد مخلص
# عرفانی فرهنگ
## د محمد هارون خپل شعشعی
## لیکنه او څیړنه
## ۳۲

**۹۷- د نېستی یا عدم عالم : وگورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندې د جبروت عالَم**

**۹۸- د وحدت او کثرت عالم : وگورئ عالم او د هغه ډولونه**

**۹۹- د هستی اونېستی یا وجود او عدم عالم : وگورئ عالم اود هغه ډولونه**

**۱۰۰- ذات او صفتونه :**

د لوی څښتن د ذات او صفتو مسأله د اسلامي علومو په ټولو څانگو، په تېره بیا اسلامي عرفان کي، خورا ارزښتناکه موضوع ده . عرفاني سالکان د قرآني نصوصو له مخي، د خدای تعالی ( ج ) د ذات او صفتو د پېژندني په لار کي هڅه، د انسان او پېري په گډون، د ټولو مخلوقاتو د پيدايښت اصلي او اساسي دنده بولي . د اسلامي تصوف او عرفان ځينو نظريه پردازانو د حق تعالی ذات او صفتونه يوه خبره گڼلي ده؛ او د هغو له بېلولو څخه يې ډډه کړې ده . د قرآن عظيم الشان په بې شماره آيتو کي د الله سبحانه وتعالی د بېلابېلو صفتو په باب يادوني سوي دي . د دې مبارکو آيتو له مضمون څخه دا جوتيږي، چي موږ هره شېبه د خدای ( ج ) صفتونه په سترگو وينو. دا صفتونه کله د رحمت د باران ؛ او کله هم د قهر او غضب د څپو په څېر زموږ په وړاندي جلوې کيي(کوي) . په اسلامي تصوف او عرفان کي د جمال او جلال دا صفتونه، د الله تعالی د فعلي صفتو په نامه يادیي . پر دې صفتو سربېره، ځيني صفتونه د رب جليل د ذات ځانگړتياوي څرگنديي، چي يوازي او يوازي په لوی څښتن پوري اړه لري؛ او په کايناتو کي بل هيڅ موجود د هغو د موصوف کېدو وړتيا نه لري . په حقيقت کي بل چا ته د داسي صفتونسبتول، د شرک لو( لويه) گونا رامنځ ته کيي، چي په اسلامي تصوف او عرفان کي هيڅ جواز او هيڅ ځای نه لري؛ د مثال په توگه الحی، القيوم، سامع، بصير، خبير،گويا، عليم ، قادر ،

محیط، لطیف او داسي نور یوازي د لوی رب صفتونه دي، چي یوازي او یوازي دهغه له ذات سره سمون لري . دي ډول صفتو ته د الله تعالی د ذات صفتونه وایي . د خدای تعالی ذات د دي ډول صفتو له ضد او خلاف څخه منزه دی ؛ ځکه ځوک نسي ویلای چي، خدای تعالی سامع، خبیر، بصیر، قادر، لطیف او علیم . . . نه دئ . په بله ژبه، د دې صفتو ضد او خلاف په هیڅ ډول د الله تعالی له ذات سره سمون او برابري نه لري .

د حق تعالی د ذات او وجود په باب پر اسلامي تصوف او عرفان سربېره، په نورو دینو، فلسفي او فکري ښوونځییو کي هم پراخي خبري سوي دي؛ مثلاً د یوولسمي مېلادي پېړۍ نامتو مسیحي عالم ، انسلم، خدای هغه موجود ګڼي، چي په پوهه او سوچ کي تر هغه لوړ او بشپړ نه ځاییږي[۱].

په تصوفي او عرفاني حلقوکي د لوی څښتن د ذات پېژندني په اړه ، بېلابېلي نظریي وړاندي سوي دي . د ځینو عارفانو له نظره، د الله تعالی د صفتو په اړه تر ژور فکر وروسته، وار په وار د حقیقتو له مخي پردې لیري کیږي؛ او پلټونکي د لوی څښتن د ذات پېژندني پر لار ګام اخلي . دا لار ډېره اوږده او ستونزمنه ده؛ خو د هر ګام په پورته کولو سره د پروردګار ذات پېژندني ته ور نیژندې کیږي . د اسلامي تصوف او عرفان وتلی لارښود - لوی شېخ محی الدین ابن عربي ( ۵۶۰ - ۶۳۸ هـ ق) په خپل مشهور اثر « فتوحات مکیه » کي د حق تعالی د ذات پېژندني په اړه خورا په زړه پوري استدلال کیي . دی لیکي : « خدای موږ ته لارښوونه کړې ده، چي د هغه د توحید او یووالي په باب پوهه تر لاسه کړو؛ لکه څنګه چي د محمد د سورې د نونسم آیت ( ۴۷ : ۱۹) په یوه برخه کي راغلي دي : « فاعلم انه لا اله الا الله » خو الله تعالی موږ ته نه یوازي د خپل ذات پېژندني په باب لارښوونه نه ده کړې، بلکي له دې کار څخه یې د پرهېز کولو امر هم کړئ دئ؛ لکه څنګه چي یې د آل عمران د سورې د دېرشم آیت (۳ :۳۰) په یوه برخه کي ویلي دي : « ویحذرکم الله نفسه . . . » یاني خدای تاسي له ځانه منعه کیي . د ابن عربي په اند، خدای تعالی حتا د اسلام ستر پېغمبر- حضرت محمد ( ص) هم د خپل ذات په اړه له فکر کولو څخه منعه کړئ دئ . ابن عربي، د شورا د سورې د یوولسم آیت ( ۴۲ : ۱۱) یوې برخي« لیس کمثله شیء » ته اشاره کیي، چي هیڅ شی د پروردګار په شان نه دئ . لوی شېخ - ابن عربي په پای کي دا نتیجه اخلي : « د حق تعالی د ذات په باب پوهه تر لاسه کول، څنګه ممکن دي، په داسي حال کي چي د هغه ذات د کایناتو له هیڅ شي سره ورته والی نه لري؟[۲] »

د اسلامي تصوف او عرفان انګرېز څېړونکي - پروفیسر نیکلسن ( ۱۸۶۸ - ۱۹۴۵م ) د خدای د ذات او صفاتو په اړه د وحدت الوجود د فلسفي د مخکښ، شېخ اکبر محی الدین ابن عربي، د نظریو په باره کي داسي کاږي : « هغه ځوک، چي خدای په لمر کي لمانځي، لمر ته ګوري؛ هغه ځوک چي خدای په ژوندییو موجوداتو کي لمانځي، ژوندي شي ته ګوري؛ هغه کسان چي خدای په مړو شیانو کي لمانځي، هغوی مړه او بې جانه شیانویني؛ هغه کسان چي یې د یوه بې مثله او بې ساري ذات په توګه لمانځي، هغوی یوې داسي هستی ته ګوري، چي هیڅ ساری او مثال نه لري . پوهاند نیکلسن زیاتیي : ځان له داسي خاصي او ځانګړي عقیدې سره مه تړئ، چي د هغي له امله د نورو پاته شیانو په اړه خپل باور له لاسه ورکئ؛که نه نو نه یوازي به ډېر ښه شیان له لاسه ورکئ، بلکي د موضوع په اصلي او ریښتیني حقیقت به هم پوه نسئ[۳] . »

د اسلامي عرفان وتلی او منلی عارف - شېخ عزیزالدین نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) د الله تعالی ذات هغه نامحدود او ناپایه نور بولي، چي هغه ته په رسېدو سره، انسان له شرکه ژغورل کیږي؛ حلول او اتحاد باطلیږي؛ اعتراض او انکار له منځه ځي؛ او له ټول عالم سره سوله پیدا کیږي . انسان دې نور ته په رسېدو سره پوهیږي، چي د خدای ذات پر ګردو موجوداتو را چاپېر سوئ دئ؛ او د کایناتو ټول موجودات د سمندر په وړاندي

د يوه ځاځکي په څېر او ان تر ځاځکي هم کوچني دي . موجودات حدود او انتها لري؛ خو د ده ذات لايتناهي دئ . شېخ نسفي زياتيي : دا نور د سر په سترګو نه ليدل کيږي؛ مګر د سِر ( باطن ) په سترګو د ليدو وړ دئ؛ ځينو ويلي دي، چي دا نور هم د سر په سترګو او هم د سِر په سترګو ليدل کيږي[۴] . » د شېخ نسفي په اند، انسان يوازي د پرله پسي رياضتو او مجاهدو له لاري دې بې سر و بې پايه نور ته رسېدای سي . کله چي د زړه هينداره د ډېرو رياضتو او کوښښونو په مرسته پاکه سي، هغه وخت نو د دې نور ځلېدو ته لار پرانيستل کيږي[۵] . شېخ نسفي، د لوی څښتن د ذات په اړه په قرآن کريم کي د فرعون او حضرت موسا ( ع ) مناظرې ته اشاره کړې ده . د دې قرآني کيسي له مخي، فرعون له حضرت موسا ( ع ) څخه پوښتنه وکړه : « قال فرعون وما رب العلمين[۶] » [ فرعون وويل : خدای دي څه شي دئ؟ ] موسا ( ع ) پوهېده، چي فرعون د الله تعالی د ذات په باب پوښتنه وکړه؛ او دی د هغه د ذات په باب خبره نسي کولای . له دې کبله، فرعون خلګو ته وويل، چي پېغمبر مو لېونی دئ . فرعون، خدای پېژندئ ؛ او په دې پوهېدئ، چي حضرت موسا( ع ) د خدای پېغمبر دئ . فرعون حضرت موسا ( ع) ته وويل، چي ته پوهه لرې؛ خو قدرت او اختيار نه لرې . يوازي زه دواړه لرم؛ او زه ستاسي لوی پروردګاريم ( فقال انا ربکم الاعلی[۷] ) شېخ نسفي، په خپل بل عرفاني اثر « زبدة الحقايق » کي د حق تعالی د صفتو او ذات په باره کي د وحدت الوجود د فلسفي مکتب نظريات داسي کړي دي : « د وحدت څښتنان وايي، چي وجود يوازي يو دئ؛ او هغه د خدای تعالی وجود دئ . بې خدايه هيڅ وجود نسته؛ او بې خدايه د بل شي وجود ناممکن دئ . دا وجود ظاهر او باطن لري . ددې وجود باطن يو نور دئ . دا نور د عالَم اروا ده؛ او ټول عالم په ډک دئ؛ دا نور نامحدوده او ناپايه دئ . د شيانو ژوند، پوهه، اراده، کتل، اورېدل، ويل او نوري ځانګړتياوي نه يوازي په همدې نورپوري تړلي دي، بلکي هر څه په خپله همدا نور دئ . که څه هم د شيانو صفتونه، فعلونه او نومونه ټول له دې نوره پيدا دي؛ خو دا نور يوازي يو نور دئ؛ او نور ټول مخلوقات ددې نور نښي نښاني دي . دا نور اول او اخير نه لري؛ او تل تر تله ژوندی دئ[۸] . شېخ نسفي زياتيي : « بايد دې نور ته ځان ورسوو؛ دا نور بايد وګورو؛ بايد له دې نور څخه جهان ته وګورو، تر څو له شرکه وژغورل سوو . » وروسته دې نور ته د سالک د رسېدو، ځيني نخښي بيانيي :« اوله نخښه داده ، چي د دې نور ليدونکي خپل ځان نه ويني؛ ځکه تر هغه مهاله چي څوک ځان ګوري دکثرت په عالَم کي غوټې وهي؛ او د کثرت په ليدو کي شرک دئ . کله چي د سالک وجود له منځه ايسته سي؛ شرک هم نه پاتيږي؛ حلول او اتحاد، وصال او بېلتون هم نه پاتيږي؛ ځکه چي حلول او اتحاد، وصال او فراق تل د دوو څيزو تر منځ يي (وي) . کله چي سالک په دې نور و سوځل سي،بيانو دا ټول شيان هم له منځه ځي؛ او يوازي يو متعال او مقدس خدای پاتيږي . دا مقام په توحيد کي د فنأ مقام دئ[۹]. » شېخ نسفي د صفتو او ظواهرو په لومو کي بند کسان داسي تعريفيي : « هر څوک ځانته رب او مالک لري؛ خو د « رب » او « رب الارباب » تر منځ ډېر توپير دئ . هغه څوک بت پرست دئ، چي يوازي د خدای صفتو او ظواهرو ته ورسيږي؛ او دهغه ذات و نه پيژني . داسي څوک تل د خدای له مخلوقاتو سره په تضاد او جګړه کي دئ . هره ورځ د اِعراض او انکار په حال کي دئ . داسي څوک که څه هم په ظاهره د خدای عبادت کيي؛ خو په باطن کي مشرک دئ . ددې پر خلاف هغه څوک ژغورلئ دئ، چي د خدای له مخي دهغه و ذات ته ورسيږي . داسي څوک په يوه وار له ټولو مخلوقاتو سره سوله کيي؛ له اعراض او انکار څخه ازاديږي؛ او په دې توګه هم د خدای عبادت کيي هم د توحيد و مقام ته رسېدلئ يي[۱۰] . »

علي محمد مخلص، په خپل عرفاني او تاريخي اثر « حالنامه » کي د يقين په سترګو د الهي ذات د کتلو په باب د خپل عرفاني پير - بايزيد روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق ) دا کيسه راوړې ده : پير روښان چي هرې

خوا ته کتل، د زړه په سترګو ېې (به یې) د بې ساري حق ذات لیدئ؛ د معبود ذات مخ و شا، ښی او کیڼ، پورته او کښته نه لرله . دا ذات بې حده، ناپایه او بې لوري ؤ؛ او دواړه جهانه پکښې ډوب وه . پیر روښان د دې حالت په لیدو سره له خپل پلار ( قاضي عبدالله) څخه داسي پوښتنه کیي : کله چي خدای تعالی په جنت کي مؤمناتو ته خپل دیدار وښیي، نو مؤمنان د لوی څښتن ذات څه ډول ګوري؟ له کم (کوم) لوري څخه، که بې لوري؟ له مثال سره،که په بې مثله؟ د سر په سترګو، که د زړه په سترګو؟ پلار یې په جواب کي وایي : ما لیکلي لیدلي دي، چي حق تعالی مؤمنانو ته بې لوري، بې ساري او د سر په سترګو خپل دیدار ښیي . مؤمنان په جنت کي هري خواته د حق تعالی دیدارګوري؛ او د حق د دیدار له مستیيه بې سده کیږي . پر دې مهال ځانونه نه ویني، یوازي خدای ویني . بایزید روښان، د دې خبرو په اورېدو سره سوچ وکړ؛ او د قرآن مجید د بقرې د سورت د یوسلو پینځلسم آیت ( ۲: ۱۱۵) د یوې برخي « . . . فاینما تولو افثم وجه الله ۱۱ » مانا یې په ځان کي ولیدله۱۲ .

مخلص، د « حالنامې » په یوه بله برخه کي د هغه عرفاني مقام یادونه او شننه کیي، چي بایزید روښان یې د معنیت له تیارې څخه د دیدار و رونا، د لیري توب او کوڼ والي له تیارې څخه د نیژدې والي او اورېدو و روښنایي، د ناپوهی او غفلت له تورتمه د همېشني ذکر او« ذات پېژندني »و مقام ته لوړ کئ۱۳. پیر روښان د حق تعالی د پېژندني په اړه د « ذات د عِلم » یا« ذات پوهني » په نامه د یوې بېلې عرفاني اصطلاح نوم اخلي . په « حالنامه » کي زموږ د عارف شاعر ، علي محمد مخلص، د بیان له مخي د الله سبحانه و تعالی د ذات او صفتو پوهه تر زیاتو روحاني ریاضتو وروسته د الهي الهام په څېر د پیر روښان په زړه کي القأ سوې ده . د دې الهام پر بنسټ، بایزید روښان ته ویل سوي دي، چي هر ذات ځانته صفتونه لري؛ او هیڅ ذات بې صفتونه یې؛ هر صفت په ذات پوري پایي؛ او له ذات څخه په بېلېدو سره له منځه ځي۱۴ . د ذات او صفتو د همدې ډیالکتیک پر اساس، پیر روښان د نبي علیه السلام د دې حدیث : « ما رأیت شیء الا قد رأیت فیه » له مخي په ګردو کایناتو کي داسي هیڅ موجود نه لیدئ، چي د لوی څښتن ذات پکښې جلوه ګر نه یي۱۵ .

**مشهور عرفاني او فلسفي شاعر - علامه اقبال** لاهوري ( ۱۲۹۴هـ ق/ ۱۸۷۶م - ۱۳۵۷هـ ق/ ۱۹۳۸م ) و **عرفاني سالک ته یوازي د صفتو پېژندنه کافي نه ګڼي . د ده په عقیده، د عارفانو د ژوندانه اصلي او ریښتیني مقام د سپېڅلي ذات بې پردې لیدنه ده . دا مقام په حقیقت کي د حق تعالی له همېشنې او بې انتها هستی سره د یووالي مقام دی، چي عارفانو د « فنأ في الله او بقأ بالله » ،« تخلقو باخلاق الله »، « موتوا قبل ان تموت » ، « جمع الجمع » او داسي نورو په نومو یادکړئ دئ . علامه لاهوري دا مسأله په خپل ژور فلسفي او عرفاني کلام کي داسي بیانیي :**

« . .. بر مقام خود رسیدن زندگیست

ذات را بی پرده دیدن زندگـیست

مرد مؤمن در نسازد با صـفات

مصطفی راضی نشد اِلاّ به ذات ۱۶. . . »

زموږ فکور شاعر، علي محمد مخلص، په خپلو ژورو او پخو عرفاني افکارو کي د حق تعالی د ذات او صفتو مسأله په ډېر نوښت او هونرمندۍ سره انځور کړې ده . هغه، د قرآني نصوصو په استناد، لوی څښتن د بې چون، بې نمون او بې چګون ذات په توګه یادیي . د ده بې مثله ذات په صفتو سره پر ټولو موجوداتو را چاپېر سوئ دئ؛ هر څه ګوري او هرڅه اروي؛ په هر څه پوهېږي او په هر څه خبر دئ؛ هر هغه څه کیي، چي خوښه یې یي . مخلص، د نورو عرفاني مخکښانو په څېر، د لوی پروردګار ذات او صفات یو له بله نه بېلېدونکي بولي؛

او د صفاتو بقأ د هغو په ذات کې ګوري . د ده په یوه غزله کې دې ژورو فلسفي او عرفاني ټکو ته په پام سره داسې راغلي دي :

په ښتو صفت به وایم له بې چــونه
دی لطیف، بې مثله ذات دئ بې نمونه
د ده ذات دئ لامکان، مکـان یې نشته
بې جهت عظیم دریاب دئ بې چـګونه
نحن اقرب الیـک خـــبر واروه!
دی محیط په هر اندام دئ پــه رګـونه
حق په ذات، صفات محیط په کُل اشیا دئ
تل له ذاته نه بېلېږي صفـتونه

د مخلص په نظر د کایناتو هر مخلوق د باري تعالی صفتونه پېژني؛ او د توحید په ویلو سره د هغو بیان کیږي؛ د قربت مقام ته رسېدلي عارفان په هر اواز کې دیوه پروردګار د جاه او جلال ثنا اروي؛ خو په ټولو مخلوقاتوکې د ښاغلي او غوره مخلوق په توګه د انسان، په تېره بیا عارف انسان، رسالت یوازې د لوی ښتن د صفاتو په معرفت سره نه بشپړیږي . عارف باید د کاملانو په حضورکې د زړه سترګې روښانه کړي؛ د باطن پوهه تر لاسه کې؛ ټول پټ حقیقتونه او رازونه د زړه په سترګو و ګوري؛ او بیا د همدې الهي پېرزوینې په رڼا کې د جلیل رب په ذات پېژندنه کې هڅه وکړي،که نه نویوازې د صفاتو په پېژندنې سره د عرفاني منزلت دعوه پر ځای نه ده . مخلص دا عرفاني مسأله په دې ښکلې غزله کې داسې شني :

په نور څېز کښي دي صفات، علامـت ګورم
زه د ذات، صفات مظهر د حق اظهر یم
خلیفه یې پر خپل ځای کړم په جهــــان کښي
په مخلوق کښي په کرم د حق مهــتر یم
وهر چا تې۱۷ د صفات معرفت ور که
زه د ذات په معرفت تر کُل بهـتر یم
که حاصل دي معرفت د ذات ونه کـړم
په جهان کښي تر جمله حیوان بتــر یم

***

که ته یو زمان په فکر د صفات شي!
په صفات کښي به بینا د حق په ذات شي!
یو زمان فکر تر ډېر عبــــادت بِه دئ
په ښه فکر به دانا په کُل کُلیـات شي!

په یوه پارسي مثنوي کې له صفاتو څخه و ذات پېژندني ته د تېرېدو مسأله داسې انځوریي :

« . . . اختلاف است در میان معـرفت
باتو ګویم اي رئیس ملـک دیــن
چون تو بشناسی صفات ذوالجلال

کافی است این معرفت بشنو رجــال
صوفیان گویند بشنو گـــوش دار
این همه عرفان وصف است هوش دار
نیست این عرفان ذات ای بی خبر!
ذات حق بشناس گرداری بصـر
عارف وصف است گوش خان مــن
عارف ذات است چشم ای جان مـن
گوش وصف غایبان داند رفیـق
چشم بیند حاضران را ای شفیق
رو بصارت را بیار از کامــلان
تا ببینی از بصـــارت جانِ جــان
تا که چشم دل نشد حاصـل ترا
کی بگوید خلق بینا دل ترا
گرا ترا حاصل نشد عرفـان ذات
پس مخوان عارف تو را از صفـات
وصف او دانند بشنو جُمله چیز
وحده گویند از آنرو ای عـــزیز!
خاص بهر آدمی عرفــان ذات
آدمی ممتاز زین وصف صفـات
گرتویی انسان صفـات، ذات را
هر دو را بشناس گفـتم ماجرا
پند مخلص بشنو ای جان پــدر!
گر تویی عـاشق بذات حق بشر
رو مرید پیر روشان شو بـجان
تا کند ترا عارف بر ذات هـان۱۸»

په یوه بله غزله کي د حق تعالی د ذات او صفتو ترمنځ د یووالي او پیوستون مسألي ته داسي گوري :

حق محیط په ذات، صفات له هره ځیزه
دی په ذات، صفات واحد دئ باتمیزه
د احد په ذات، صفات کښي ببوره نشتــه
د واحد پر ذات زاید صفات ناڅـــیزه
حق په ذات بینا، شنوا، علیم، گویـا دئ
دا اوبه په ذات لندي، سړي، پاکیـــزه

په ځیني نورو غزلوکي د لوی څښتن د ذات او صفتو ژور انځور او د هغو تر منځ نه شلېدونکی ډیالکتیکي اړیکی داسي سپړي :

ض ضم په کُل کُليــات شــه

لکه نو په هر نبــات شه

په کُل جزء  دئ رسپــدلــئ

چي په ارض، په سماوات شه

هر ذره يي احــاطـه کړه

حق محيط په ذات، صــفات شه

ذات، صفات لازم ملـــزوم دي

صفات کله بېل له ذات شه

ذات ځرګند شه په صفات کښي

ذات يي مخ، صفات مــرآت شه

ذات ځراغ پکښي بلـېږي

دا صفات مثال مشـکات شه

***

هر چي صنع بې صــانع ګڼي واروه !

د دانا په نظر ډېر احمق، حمــار شي

يا چي ذات به بې صفاته ګڼي ړونــد دئ

دا جهان د ذات، صفات مظهر انوار شي

اې مخلصه حق په ذات، صفات يوګوره !

هر چي دا يقين لري هغه ديندار شي

***

که جاهل ذات، صفات بېل ګڼي کوردل دئ

وعارف ته ذات، صفات دي د سبحان يو

چي له ذاته، صفات غير ګــڼي ړوند دئ

وبينا وته دي کُل ظــاهر، نهـان يو

په يو بل ځاى کي د الله تعالی د ذات او صفتو مسأله د وحدت او کثرت  په يوه  ښکلي فلسفي انځورکي داسي وړاندي کيي :

د امواج نوم يي صفـات دئ

کلام باد، باد يي کـلام دئ

ذات دريا تل په جنبش کښي

د هر موج يي جُدا نــام دئ

مُسما په کل نومـــونو

يو احد له خاص و عـام دئ

ذات يي يو صفات يي ډېر شه

ښېخ يي يو ښاخ يي اقسام دئ

لکه څنګه چي د وني يا درختي تنه، ښاخونه، پاڼي، ګلونه او مېوه ټول د زړي يا توخم له برکته ژوند او هستي مومي، په همدې ډول دکايناتو ټول موجودات  هم د هغه ذات له برکته پايي، چي په هرڅه کې( کي يي) د ژوند سا پوکلي ده .  مخلص، په دې غزله کي د همدې  عرفاني نظريې د  ثابتولو دپاره د حق ذات له زړي او صفتونه يې له وني سره تشبيه کړي دي :

ذات شه يو صفات يې ډېر دي
په صفات کښي ذات مکتوم شه
زړی ذات، شجر صــفات دئ
زړی ورک پکښي معــدوم شه

د مخلص د عرفاني نړی ليد له مخي،  هيڅوک په بشپړه توګه د حق تعالی په  ستاينه نه پوهيږي . بې لويه ځښتنه هيڅوک، لکه څنګه چي ښايي، د هغه ستاينه  نسي کولای . له همدې امله د رسول الله ( ص) دې مبارک حديث ته ګوته نيسي : « لا احصی ثنأ عليک انت کما اثنيت علی نفسک »  ياني لکه څنګه چي ته د خپل ذات ثنا او صفت وايې،  زه ستا ثنا او صفت نسم ويلای :

د مولا ثنــا بي حده
دابي شماره لا تعـده
انبياوو پوره نه کړه
شه خاموش علي محمده !

***

همدا مسأله په يوه پارسي مثنوي کي داسي وړاندي کيږي :

« ګفت لا احصـی پيمبر ای رفيـق!
کيست جز حق تا بنوشد اين رحيــق
وصف خود را خود مګو داند کسی
زانکه به نفس خود است بينا بســی
ګفت حق بشنو اګر داری ضميــر
آدمی بر نفس خود دانا بصيـــر
چون بديدی ذات حق بی انتهـا
وصف او را نيز دان بی منتهــا
وصف بی حد صاحب بی حد چـون کند
آنچه در خود دارد  آن بيرون کنـد
وصف بی حد بی حــدی را روشن است
چشم بينايان فرح از ګلشن اســـت
ما چوکور و ابلهيم در وصف خـــويش
ګويی وصفش کی برم تا حـــال بيش١٩ »

***

« . . . وصف او درياست وصف ماست نهر

این نهر جاری شد از موج بــحر
وصف ما از وصف او ظـــاهر شده
ذات ما از ذات او بـــاهر شده
ما ز نفس خویش دانستیم حـــق
راه عرفان این است بشنو سبق۲۰. .. »

مخلص په « حالنامه » کي د الله تعالی د بي شماره ثنا او صفت په باب د عین القضاة د مشهور اثر « تمهیدات ۲۱ » په استناد داپه زړه پوري بیان راوړئ دئ : « کله چي حضرت رسالت پناه د معراج په شپه عرش ته ولاړ، هلته یي یوه دروازه ولیده، چي پرده پر ځړېدله .کله چي پیغمبر ( ع ) وغوښتل هغه پرده پورته کړي، داسي غیبي ږغ یي واورېدئ : « اقف یا محمد انا ربک یصلی » یاني ای محمده ودرېږه! چي ستا پروردگار لمونځ کیي . حضرت رسالت پناه سوچ وکړ، چي موږ خو خدای ته لمونځ کوو؛ نو خدای تعالی چا ته لمونځ کیي؟ له غیبه ږغ ور ته راغئ، چي پروردگار دي د خپل ځان ستاینه کیي ۲۲ . »

لمنلیکونه

۱ پنجشیری۲۷ .

۲ ابن عربی ۲۱۵ .

3 Nicholson 87.

۴ نسفی، انسان الکامل ۲۸۷ .

۵ نسفی، انسان الکامل ۲۸۷.

۶ د شعرآء د سورت درویشتم آیت ( ۲۶: ۲۳) .

۷ د نازعات د سورت ځلیرویشتم آیت .

۸ نسفی، زبدة الحقایق ۷۵.

۹ نسفی، زبدة الحقایق ۷۷.

۱۰ نسفی، زبدة الحقایق ۸۳ .

۱۱ ترجمه : هري خواته چي گوری د الله تعالی مخ ځرگندیري .

۱۲ مخلص، حالنامهٔ ر پیر روښان ۴۳ .

۱۳ مخلص، حالنامهٔ ر پیر روښان ۴۸ .

۱۴ مخلص، حالنامهٔ ر پیر روښان ۸۳ .

۱۵ مخلص، حالنامهٔ ر پیر روښان ۴۴ .

۱۶ شاد روان ۱۹۰.

۱۷ تي : د « ته یي » لنده بڼه .

۱۸ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۶۹۶- ۶۹۷ .

۱۹ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۷۲۰ .

۲۰ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ۷۲۱ .

۲۱ « تمهيدات » د عين القضاة  همداني ( ۴۹۸ – ۵۲۵ هـ ق) عرفاني او فلسفي اثر دئ .  دا اثر په ۱۹۶۹ع كال د عليفقي منزوي او دكتر عفيف عسيران په زيار د ايران د بنياد فرهنگ له خوا په تهران كي په نوي بنه چاپ سوئ دئ .

۲۲ مخلص، حالنامهٔ پير روښان  ۷۲۲ .

پاته لري